# د هغو ماشومانو لپاره د انتظار د مودې په اړه معلومات، چې د پناه غوښتنه یې کړې ده او په ناروې کې له مور او پلار پرته ژوند کوي

### اوسمهال کوم کسان د کډوالو د چارو د اداري لخوا مرکې ته بلل کېږي او ځواب ترلاسه کوي؟

#### سوریه

د سوریې د اتباعو او د سوریې د بې تابعیته اتباعو د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو ارزونه تر (UDI) د کډوالو د چارې اداري نامعلومه مودې پورې ځنډولې ده. ګڼ شمیر نور اروپایي هېوادونه هم ورته کار کوي.

د سوریې وضعیت لا هم نامعلوم دی، خو د کډوالو د چارو اداره وضعیت له نږدې څاري. کله چې د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو ارزونه بیا پیل شي، تاسو ته به په دې هکله لا زیات معلومات درکړل شي.

#### اوکراین

د اوکراین ټولو وګړو ته ډله ییزه پناه نه ورکول کېږي. کوم کسان چې له هغو سیمو څخه راځي چې د کډوالو د چارو اداره یې خوندي ګڼي، د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه یې په انفرادي توګه ارزول کېږي. دا په هغو ماشومانو هم پلي کېږي چې UDI) عمرونه یې له اتلسو کالو څخه ټیټ دي او له مور او پلار پرته په ناروې کې ژوند کوي.

### لاندې معلومات پرته له سوریې د نورو ټولو هېوادونو لپاره د اعتبار وړ دي:

د مارچ په میاشت کې به موږ:

- هغو کسانو ته ځوابونه ورکړو چې د پناه غوښتنې مرکه (انټروي) یې ترسره شوې ده.
- له هغو کسانو سره مرکه ترسره کړو چې د ۲۰۲۴کال په وروستیو دریو میاشتو کې راغلي دي او له مرکې وروسته دوی ته ځواب ورکړو.

### ولې ځینې کسان له ما څخه مخکې ځواب ترلاسه کوي؟

لومړی هغو کسانو ته ځواب ورکول کېږي چې ډیر وخت یې انتظار کړی وي. د ځینو کسانو قضیې او له هغوی سره مرکه ترسره کول زیات وخت نیسي. که چیری تاسو باید د نورو کسانو په پرتله زیات وخت انتظار وکړئ، دا په دې معنی نه ده چې موږ ستاسو قضیه هیره کړې ده. لاندې ځینې لاملونه دي چې ولې د ځینو قضیو څېړل زیات وخت نیسي:

- که له مرکې وروسته ستاسو د قضیې په تړاو لا زیاتو څېړنو ته اړتیا وي، کیدای شي ځواب په ځنډ ترلاسه کړئ.
- که د کډوالو د چارو اداره (UDI) د دې ارزونه کوي چې ستاسو قضیه دې د دوبلین تړون په یو بل غړي هېواد کې وڅېړل شي، نو دا کار وخت ونیسي. په دې حالت کې ښایي تاسو د نورو په پرتله د مرکې لپاره زیات وخت انتظار وباسئ.

که چیرې له تاسو سره د نورو دلایلو له کبله مرکه نه وي شوې یا مو ځواب نه وي ترلاسه کړی، وکیل ته به مو د ځنډ په هکله خبر ورکړل شي.

---

UDI
Utlendingsdirektoratet
Norwegian Directorate
of Immigration

مونږ پوهېږو چې د اوږدې مودې انتظار کول ستونزمن دي؛ نو له همدې امله زيار باسو چې د پناه غوښتنې ټول غوښتنليکونه ژر تر ژره وڅېړو.

تاسو اړتيا نلرئ چې د کډوالو د چارو له ادارې سره په دې هکله اړيکه ونيسئ چې قضيه مو څېړل شوې ده او که نه. مونږ ځواب ستاسو وکيل ته استوو.

## ايا زه داسې څه کولای شم چې د انتظار موده مې لنډه شي؟

تاسو کولای شئ د خپل هويت اسناد ژر تر ژره مونږ ته راوسپارئ.

- که د هويت اصلي اسناد ولرئ، بايد د خپلې سيمې پوليسو ته يې وسپارئ. د اسنادو په سپارلو کې له خپل سرپرست څخه د مرستې غوښتنه کولای شئ.
- که د اسنادو فوتوکاپي يا عکسونه لرئ، مرکې ته يې له ځانه سره راوړئ او يا يې د کډوالو د چارو اداري (UDI) ته په لاندې پته واستوئ:
  Utlendingsdirektoratet (UDI), Postboks 2098 Vika, 0125 Oslo
  په اسنادو کې د دوف (DUF) شمېرې ليکل مه هيروئ. ستاسو سرپرست به په دې هکله له تاسو سره مرسته وکړي.

**د معلوماتو تازه کول**
د انتظار د مودې په اړه معلومات د ۲۰۲۵ کال د مارچ د مياشتې له لومړۍ (۱) نېټې څخه اعتبار لري.

ياد معلومات به د ۲۰۲۵ کال د اپريل په لومړۍ نېټه او يا هغه مهال تازه شي چې د پام وړ بدلونونه پکې راشي.